

احمدزي
اللہ دین خیل
عیسیٰ خیل
یحییٰ خیل
مندی خیل
موسیٰ خیل
ابراهیم خیل
معروف خیل
جبار خیل
ستانکزی
عبدالرحیم زی
دادین خیل
کوچی خیل
شاخیل
خدم خیل
وچ عوک
شیری
سلیمان خیل
بکراخیل
تاره خیل
بازید خیل
محمد علی خیل
بادشاه خیل
خواجه خیل
نور خیل
مانی خیل
کرم خیل
باینده خیل
رادت خیل
منصور خیل
فتح اللہ خیل
سلام خیل
کامران خیل
خانک خیل
ازک خیل
نیروز خیل

دښالي خيلو احمدزيو يوه څانگه ده چې په سليمانخيلو ورگډيږي . ددوی زيات شمېر کوچيان دی چې يوشمېر يې په ننگرهار، لغمان او يوشمېر يې هم دغزني، لوگر او خورد کابل او خاك جبار په سيمو کې استوگنه لري .

## جبارخيل

دوی په اصل کې غلجي پښتانه دی چې اکثره يې دننگرهار، لغمان، لوگر او د کابل او جلال آباد تر مينځ سيمو کې ميشته دی . په تيزين ، جگدلك ، سره رود، گندمك او دحصارك په اولسوالی کې هم يوشمير جبارخيل شته. دلغمان ولايت دعزيزخان کڅ دسيمې جبارخيل هم مشهوردی (۱) ددوی شمير د(۱۴۶۶۷) تنو په شااوخوا کې ښودل شوی د(۲) زيات شمير خلك يې شتمن او ځينې يې په دولتي ملازمتونو بوخت دی : ويل کيږي چې دوی په پيل کې په خاك جبار کې اوسيدل، خود امير عبدالرحمن خان په وخت کې خپلو اوسنيو سيمو ته و لیږدیدل .

جبارخيل دحصارك داولسوالی په لاندنيو کليو کې ميشته دی . آب زنگياني ، غوزيزه ، نادر، گلاخيلو، حليم خيلو، ظريف خيلو، سياب سفلی ،چارتوت، سرندو، پرجنه ، خنجراو کڅی کې .

مشهورو خيلونه يې دادی : مريم خيل ،خوگياني خيل اونور. . . .

## جدون (گدون)


که څيری دگدون دنسب شجره په غور سره وڅيړو نو څرگنده به شي چې دغه قبيله هم په غرغښتي پښتنو کې شامله ده دروایاتو مطابق داخلك له پيل نه د خاښي خيلو په گوندی کې شامل شوی دی او دقبايلي مهاجرت په زمانه کې ديوسفزيو مندړو سره دی سیمی ته را غلی دی (۳)

---

(۱) دجبار خيلو ديوه تن سهيل ز يسری اومشرښاغلي لعل آغا سره دخبرو اومرکې په ترڅ کې مو دا معلومات ترلاسه کړل .

(۲) معلومات مختصردر باره اقوام وقبايل ايالت سرحدی کشورد۹مخ جدول.

(۳) پښتانه دتاريخ په رڼاکی ، ۱۳۲۰ مخ.


شتک
لومړۍ میرمن
دویمه میرمن
دریمه میرمن
تنی
دوړ
کیوی
سوراني
جیلم
بازیلم
هویدیا
مولی
ابراهیم
اغوزي
مبارکشا
توري خدي
زیرکي
تپی
میرام شاه
ابراهیم خیل
حکیم
شهاول
نرخیل
فیروز خیل
قدري خیل
بلالی
منه خیل
پیین خیل
کبیر خیل
ملکریز
بلدي خیل
مریز
سی خیل
حیدر خیل
الجي خیل
ظفر خیل
صحی خیل
بتخیل
ردي خیل
مرووت خیل
تیغانی
اسمانیخیل
مادي خیل
علی خیل
پیدي خیل
نصیخیل
قیلمت خیل
ایوبی
برخیل
دولت خیل
زیرکي
محمدي
شمل
نصري
بی بکی
زخي خیل
حسن خیل
کري خیل
سلیمانخیل
لنډه
کمت خیل
ممل خیل
بوبی
بی بکی
پهاړ خیل
مسکي خیل

## میوې یې:

دګوربزو په سیمه کې متاك (چارمغز)، مڼې، زرد آلو، انګور، آلوچې، توتان، ګورګورې، پورګې او ممانې ډېرې پیدا کیږي چې ددغو میوو څخه یې ځینې تازه او ځینې یې په وچ ډول مصرفیږي.

## جامې یې:

دګوربزو د نارینه وو جامې د پښتنو وزیرو په شان دي، خو دښځو جامې یې د نورو پښتنو سیمو د جامو نه ډېر توپیر لري. دښځو کمیسونه یې عموماً د (۱۰) مترو نه نیولې تر (۲۰) مترو پورې ګڼ وي. همداراز دوی سره، سپین او تور ټیکرې هم په سر وي. همداراز ددوی ښځې د مزرو څپلې په پښو کوي.

## لاسي صنعت:

دوی دمزرونه ښکلې ټوکرې ګانې (شکرونه)، پړې، څپلې، ترنګړ، دکټ بوټ او دڅروښي کټې جوړوي.

دګوربزو مشهور کلي دا دي: خانډېر کلي، بګي خیل، ملایانو کلي، د پښانو کلي، شهید کلي او نور ..... (۱)

- ګوربز
  - نصرالدین
    - کاوی خیل
    - ګللک خیل
  - نی زی خیل
    - ضیاوالدین یازودین
      - بیبا خیل
      - ګنډی خیل (۲)
    - نواب خیل
    - ژونوال

---

(۱) دافغانستان د علومو د اکاډمي دژبو او ادبیاتو دمرکز دعامي غړي محترم محقق میراحمد (ګوربز) شفاهي توضیحات.

(۲) معلومات مختصر درباره اقوام وقبایل و لایات سرحدی کشور (۷۰) مخ.

د دغه ځای داوسیدونکو نه یو تن یا دوه تنه میلمانه په خپلو منځو کی سره ویشی او له خپلو کورونو نه ورته ډودی راوړی. لنډه دا چی د میلمه قدر کوی او وزی ترینه نه ځی.

## د مروتو کلی او د استوگنی ځایونه:

په پخوا زمانو کی چی داخلکو دایمی استوگنځی نه درلود نو اکثرو به په کیږدیو کی ژوند کاوه. اوس په دوی کی د کیږدیو رواج نشته. خلک په ټولو کلیو کی د خپلی استوگنی له پاره د مزرو څپری جوړوی او د دوی دا خبره سمه ده چی داوبو د نشتوالی په سبب د څپرونه پرته د یل ډول ودانیو جوړول گران کار دی. د دوی د اصلی کلیو نه پرته د خپلو لیری لیری ځمکو د ځارنی او داوښانو او نورو څارویو د څرولو له پاره په څرځایو نو کی یا هغه ځای ته نژدی بانډی جوړی جوړوی. مالداران او کروندگر یی د ضرورت له مخی دوه کورونه جوړوی یو یی په اصلی سیمه کی دویم په بانډو کی. د دوی اصلی کلو ته میله وایی چی مقصد یی مینه ده.

## پوښاک یی:

د دوی پوښاک عموماً داسی دی چی کوچنی پگړی په سر کوی او پراخ او زده کمیسونه چی تر پونډیو پوری یی رسیږی اغوندی همدارازد پرتوگ پرځای په دوی کی د نیلی یا سپین لنگ رواج ډیر دی، خو ملکان د لونگ په ځای پراخه پرتوگونه اغوندی. د دوی ځینی خلک د خپلو سرونو نه دستمالونه هم تاووی.

بزگران او غریب خلک د دغو ټوکرانو پرځای د پسونو یا داوښانو له وړیو نه یو ډول ټوکران جوړوی چی له نیمایی نه یی لونگ او له نیمایی نه یی یو ډول کمیسونه جوړوی چی گریوانونه یی شاکداره وی او لستونی نه لری.

د مروتو ښځی اکثره سره تور یا نیلی ټوکران په سر وی اواوږده چین داره کمیسونه چی اکثره سره یا تور رنگونه لری اغوندی. همداراز دوی یو ډول د بل رنگه ټوکر چی سپینی لیکی لری او پاسنی برخه یی پراخه او پایڅی یی پلنی وی اغوندی. د پیغلو نجونو کمیسونه یی چین لرونکی نه دی.

دلته دوی پـه خاص دول باندی دپادونی وړدی دغه قبیله دپاتی نیازیـو قبیلی سره ګډاو پـه دی سیمه کـی میشته شوی دی . هغه وخت چی دسرهنګ، عیسی خیلواوموشانی ښاخونـه دمروتولـ خوا له دغه ځایـه وشړل شول نوتـرهغه وروسته دغه فرقه دنقیوتوب او سپیڅلتوب له کبله دمروتونـه پـه امـن کی پـاتـی شـوه اود ېخواپـه شان پـه همدی ځای کی اوسیدل. میچن خیل پـه افغانستان کـی پـه متفرق دول استوګنه لـری . ددوی د(۱۵۷۰) تنوپه شااوخوا کی دننګرهارولایت دسره‌رود پـه اولسوالی کی استو ګـنه لـری . (۱) همداراز یـو شمیرمیـچن خیل د زابـل ولایت پـه کلات کی هـم استوګنه لری چی شمیریی د(۳۰۰) تنو پـه شااوخوا کی ښودل شوی دی .

## میانه

دوی سربنی پښتانه دی اودغی قبیلی خلك پـه‌مجموعی دول په کوم خاص ځای کی استوګنه نه‌لری ، بلـکی په‌خواره‌واره‌اوتیت‌اوپرك دول ژوندکوی . څرنګه چی د دوی شمیردیرلږدی نوپه افغانستان کی یی نوم چندان شهرت نـه لری . ددغی قبیلی څخه دتوغ ښاخ د بنګښوپه سیمه اوله پاتی ښاخونونه یی ځینی دکندهارپـه شااوخوا کی اوسیږی .

دشکوڼ له اولادی دکتران دځانګی یوشمیردګرانګ په سیمه کی میشته دی. له یوه روایت له مخی حضرت سلیمان چشتی‌چی مزاریی‌ددیـره غازیخان ضلعی په تونسه نومی ځای کی‌دی د دغی قبیلی څخه و (۲)

---

[۱) معلومات مختصر در باره اقوام وقبایل ولا یا ت سرحدی کشور ۲۸ مخ .

(۲) حیات افغانی ، ۲۵۷ مخ .

